
بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani
د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : 11 جولای 2015 م

# وطنه !!




وطنه تا ودانووم
ته زما روح ته زما ځان يې
له تانه ځان قربانووم
ته مې د زړه ښکلی ارمان يې

ستا له هر درد نه زه کړېږم
ستا هر نالښت راته ماتم دی
له سترګو اوښکې ځې ژړېږم
ځکه هر ګوټ کې دې نن غم دی

نور دی هر درد درمانووم
ځکه زما د درد درمان يې
وطنه تا ودانووم
ته زما روح ته زما ځان يې

له تانه ځان قربانووم
ته مې د زړه ښکلې ارمان

ستا دښمنان دې خدای تبا کی
چې ارام ژوند یې لتا واخیست
خدای دې محتاج او ټول رسواکی
د سولې خوند یې لتا واخیست

ستا ددښمن کور ورانووم
ته زما ګران افغانستان یې
وطنه تا ودانووم
ته زما روح ته زما ځان یې
لتانه ځان قربانووم
ته مې دزړه ښکلې ارمان یې
وطنه تا ودانووم ....

****

محب الرحمن « خطیبي »

د جولای میاشت ، د ۲۰۱۵ کال ــ کابل

بازگشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org